ډاکټر ګل مر جان منګل ۲۰۱۲/۰۷/۰۲

# مهاجرو چرت هم مه خرابوی!

که موږ لږ څه د مها جرت کلمی ته ځیر شو، نو دا پخپله یوه منفی کلیمه ده چی زموږ په ذهن باندی طبعیتآ بد تاسیر کوی دا ځکه چی مهاجرتونه که ټول نه وی نو په سلو کی یی ۹۹٪ د مجبوریتون له امله کیږی .چی عمده علتونه یی عبارت دی له جګړی، لوږی او بیکاری څخه. نو کله چی جګړه، لوږه او بیکاری نه وی نو ډیر کم وګړی به دی ته زړه ښه کړی چی خپل کور، کلی هیواد، دوستان او هیوادوال پریږدی او کوم بل هیواد ته پنا یوسی.

لکه چی وایی:
جانانه خپل وطن ته راشه
پردی وطن د میړو قدر کموینه

تقریبآ ۳۵ کاله کیږی چی د افغانانو د مهاجرتونو لړۍ روانه ده او ددی ولس مهاجر میلیونو ته رسیدلی دی. له بده مرغه په نړۍ کی به داسی هیوادونه کم پیدا شی چی هلته د افغان مهاجر نه وی مهاجر شوی یعنی په ټوله نړۍ کی تیت شوی دی او ځینی خو د ډیرو مشلاتونو او د مرګ له سر حد څخه هم تیر شوی دی او خپل خوږ ژوند یی په لارو کی له لاسه ورکړی دی.

له همدی جملی څخه یی ډیری افغانان په ایران او پاکستان کی ځای پرځای شوی دی. د یاد شویو کالونو په جریان کی زموږ همدغه مهاجر چی په یادو شویو دوو هیوادونو کی د مهاجرت شپی سابه کوی په ورځینی ژوند کی له نورو هم طالعو (هم قسمته) ډیر کړیدلی او کړیږی. دا ځکه چی له یوی خوا دوی مجبور دی چی د ځان او کورنیو لپاره یو خوله ډوډۍ پیدا کړی او له بلی خو د ایران او پاکستان ظالیم حکمرنان دوی په هغه او دغه بانه په عضبوی او ارام ته یی نه پریږدی چی په ارام سره خپل ژوند وکړی. دوی ( ایران او پاکستنان) د نړیوالی ټولنی او د دژینیوا تړون ((ددی تړون پر بنسټ چیرته چی جګړه وی او د جګړی څخه تبنتیدلی مهاجرینو ته د په امن ځای کی ځای ورکړل شی او ورسره کومک د وشی)) تر پښو لاندی کوی. افغانان د جګړی په نتجه کی مهاجر شوی دی او جګړه لا روانه ده، نو کله چی افغانان د جګړی له لاسه او بیا د هغی جګړی له امله چی آیران او پاکستان یی د سوځیدلو توکی برابروی او نه پریږدی چی په افغانستان کی د جګړی اور مړ شی مهاجر شوی وی څنګه غیری قانونی مهاجر ورته ویلی شی پاکستان په هیڅ وجه افغان مهاجر غیری قانونی مهاجر نه شی بللی او که یی غیری قانونی بولی دا هم د نړیوالو قوانینو څخه سرغړونه ده.

د افغان مهاجرینو سره په یاد شویو هیوادونو کی نه یوازی چی کومک نه کیږی بلکی له دوی څخه اکثرآ ایران او پاکستان د یوه سیاسی وسیلی او فشار په صفت هم کار اخیستل کیږی. کله چی د افغانستان حکومت اود ګاونډیو (ایران او پاګستان) حکومتونو تر منځ اړیکی خرابی شی نو همدغه حکومتونه یی زور له بی چاره مهاجرینو څخه ووباسی او په هغوی فشار راوړی، یا یی زندا نی کړی چی زندا نی وی مړ یی کړی همدا رنګه کله یی په کورونو حملی وکړی او یا یی لاسونه ور بسته کړی له پولی یی واړوی.

نو افغان مهاجرین باید څه وکړی؟

دی سوال ته به سم ځواب پیدا کول زما له قدرت لری کار وی، خوزما په فکر که لاندی کارونه تر سره شی کیدلای شی افغان مهاجرین چی به ایران او پاکستان کی ژوند کوی لږ د سا اخیستلو موقع تر لاسه کړی.

لومړۍ باید د افغان مهاجرو مسأله او مشکلات د افغانستان حکومت د ګاونډیو حکومتون سره د دیپلوماتیکو چاینلونو له لاری حل کړی، او د افغانستان حکومت د ایران او پاکستان حکومتونه قانع کړی او ورته وښی چی کوم خنډونه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

یی په مخکی پراته دی چی د مهاجرو ستانیدل ټکنی کوی. او بیا د هغه خنډون د لری کولو لپاره په ګډه کار وکړی تر څو دواړه خواوی له د مشکل څخه خلاصی شی.

دوهم باید د افغان مهاجرو مشکلات چی په ایران او پاکستان کی ورسره مخ دی د کابل حکومت نړیوالی ټولنی ته هم د ډیپلوماتیکو لارو څخه وړاندی کړی او له هغو څخه یی د حل په لارو کی کومک وغواړی او هغه داسی چی یا نړیواله ټولنه د مهاجرو خپل هیواد ته د راستنیدلو د شرایطو په برابرولو کی ورسره مرسته وکړی( لکه ورته د کورونو جوړول، د ښونځیو او روغتیا یی اسانتیاو برابرول او داسی نور) او یا دا چی نړیواله ټولنه پر ایران او پاکستان فشار راوړی تر څو افغان مهاجرین نور ونه کړول شی.

دریم دا، کله چی ایران او پاکستان ضرب الاجلونه او نیټی د افغان مهاجرو لپاره ټاکی او مهاجرو ته وایی چی تر دی نیټی وروسته به مهاجر ووباسو اسانه خبره هم نه ده او دا کار د ایران او پاکستان پلار هم نه شی تر سره کولای چی له یو سره یی وشړی. نو ځکه د د افغان مهاجرین دی مسلی ته ډیر فکر هم نه کوی. دا ځکه چی د ټولو مهاجرینو وباسل یو دنیا لوجستکی کار او مصرف غواړی او دا د ایران او پاکستان لپاره اسان کار هم نه دی او دا کار دوی په هیڅ وجه نه شی کولای دا ځکه چی لومړۍ دوی دومره پولیس له کومه کړی ورپسی دومره قضیان چی افغان مهاجر محکمه کړی او بیا به دومره ترانسپورت له کومه کړی چی سرحد ته یی انتقال کړی. هو دا کیدلای شی چی ځینی افغان مهاجر د پولیسو لخوا وځورول شی او یو څو پیسی تر واخستل شی همدا رنګه څو کسان چی هغه به زرو نفرو ته هم نه رسیږی د پاکستان او ایران حکومتونه ونیسی او له پولی هاخوا یی اړولی شی.

نتجه دا چی هغه افغان کډوال که سیمه یی په امن کی وی او په خپل هیواد کی یی ګوذره کیږی په خپله خوښه خپل هیواد ته راستانه شی ښه خبره ده او که داسی نه وی او په خپل هیواد کی یی ژوند نه کیږی، نو ډیر به دی ته فکر هم نه کوی چی ایران او پاکستان به تاسو ټول په زور ووباسی هغوی خو غواړی ولی ددی توان نه لری، نه مو شی باسلی خپلی سری سترګی مزی کوی دغه هم د الله ج خاوره ده او تاسو هم د الله ج بنده ګان یاست .

په اخر کی د لوی خدای ج څخه غواړم چی لومړي د په افغانستان کی دا اوږده جګړه پای ته ورسیږی او بیا د خدای ج زما په ګډون ټول افغان مهاجر هغه که په جنتونو کی وی او یا په دوزخونوکی بیرته خپل هیواد ته ستانه کړی او په خپل هیواد کی یی چاره جوړه کړی.

مننه


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ